AREU
د افغانستان لپاره د څېړنې بنسټ
۱۲ کاله
باکیفیته څېړنه

# ناهیلیتوب یا امیدواري؟ له (۲۰۱۴م) کال څخه وروسته په افغانستان کې د کوکنارو کښت

پاول فشستین او دیوید منسفیلد

چنګابښ ۱۳۹۳

## پیژندنه

دا چې له ۲۰۱۴م کال څخه وروسته به د آفینو اقتصاد په افغانستان کې کوم لوري ته ځي، د هیواد د نورو سکټورونو په څیر په ګڼ شمیر فکټورونو پورې تړاو لري (له ۲۰۱۴ م کال څخه وروسته به په افغانستان کې د آفینو اقتصاد په ګڼ شمیر فکټورونو پورې تړاو ولري). ناهیلې شوي کسان د ترياکو په کښت کې دریمې برخې زیاتوالي ته اشاره کوي چې په ۲۰۱۳م کال کې د افینو د تولید کچه د هیواد په تاریخ کې ساری نه لري. نوموړي کسان وايي چې د هیواد اقتصاد ورځ په ورځ کمزوری کیږي، په کلیوالو سیمو کې ناامني مخ په زیاتیدو ده، نړیوالې مرستې مخ په کمیدو دي او سیمه ایز واکمنان د ملاتړ د بدیلو زیرمو په لټه کې دي، له همدې امله داسې فکټورونه نه ترسترګو کیږي چې له اوسنۍ «بې سارې» کچې څخه د آفینو د تولید د زیاتیدو مخنیوی وکړي. په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسیزو کې د دولت د کنټرول نشتوالی د دې لامل شو چې د ترياکو کښت له خورا کوچنیو او لرې پرتو سیمو څخه ګڼ شمیر سیمو ته پراختیا ومومي او د کلیوالو سیمو اقتصاد ته وده ورکړي چې نوموړي کار په خپل وار سره د کابل سیاسي او اقتصادي ځواک هم را کم کړ. اوسني شرایط که هو به هو د نوموړو دوو لسیزو په څیر نه دي نو ډیر ورته والی لري. له همدې امله د آفینو د اقتصاد د لازیاتې ودې او پراختیا ویره شته.

د آفینو د اقتصاد د نه له منځه تللو لاملونه څرګند دي. آفین د هرچا لپاره د عوایدو یوه زیرمه ده که هغه بزګر دی یا دولتي چارواکی، د بې ځمکې وګړو لپاره د کار زمینه برابروي (په یو هکټار ځمکه کې کابو تر ۷ کسانو پورې ټوله ورځ په کار بوخت وي)، له کورنیو سره د پورونو د ادائیې او پانګې د زیاتولو په برخه کې مرسته کوي، او د سیمې د اقتصادي ودې له امله یې هغو کسانو ته هم ګټه رسیږي چې نیغ په نیغه د آفینو په اقتصاد کې لاس نه لري. په ۲۰۱۳م کال کې د آفینو د اقتصاد کچه د ۳ میلیارډه ډالرو په ارزښت (د کورني ناخالص تولید ۱۵ سلنه) د هیواد د صادراتو له مجموعې څخه زیاته وه. همدارنګه د آفینو اقتصاد د افغانستان د وارداتو ترټولو ستره عایداتي زیرمه ده چې د پیسو په راکړه ورکړه او د اسعارو د بدلولو په بیه باندې یې مثبتې اغیزې لرلي او په غیرمستقیمه توګه یې د دولت په اقتصادي حالت باندې هم اغیز کړی دی. خو د آفینو اقتصاد د هیواد د ثبات (ټیکاو) په وړاندې یو جدي ګواښ دی. د آفینو اقتصاد د مشروع فعالیتونو مخنیوی کوي، دولتي بنسټونه کمزوري کوي، د یو کمزوري دولت د ساتنې لپاره تشویقیه پیسې برابروي او همدارنګه د اعتیاد او د عامې روغتیا د نورو ستونزو د رامنځته کیدو لامل ګرځي. په پای کې باید وویل شي چې افغانان او بهرنیان، مخدر توکي د دولت کمزوري ګڼي.

که څه هم په ټولیزه توګه داسې فکر کیږي چې د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې فعالیتونه له ناکامۍ سره مخامخ شوي دي، امیدواري شته چې په ځینو سیمو کې کورنیو د کوکنارو د کر پر ځای د مشروع کرکیلې نورو ډولونو ته مخه کړې ده له همدې کبله ویلای شو چې که چیرې په افغانستان کې شرایط ښه شي نو د کوکنارو کښت به راکم شي او د آفینو په اقتصاد پورې اړوندو ځینو ستونزو ته به د حل لار وموندل شي.

## له کوکنارو او آفینو څخه د خلاصون لپاره سم او ناسم شرایط

که څه هم په تیرو دریوو کلونو کې په ملي سطح د کوکنارو په کښت کې ۷۰ سلنه زیاتوالی راغلی، د بلخ، هلمند او ننګرهار ولایتونو په ځینو برخو کې چې سړکونه، امنیت او مارکیټ ته لاسرسی ښه شوی، ځینې کورنۍ د سبزیجاتو په څیر د زیات ارزښت لرونکي قانوني محصولات کري او له خپل فارم څخه بهر دندې ترسره کوي ترڅو له کوکنارو څخه خلاصون ومومي. له دې سره سره چې کوکنار د نورو محصولاتو په پرتله ډیر د پام وړ دی، کښت یې زیاتو کارکوونکو ته اړتیا لري. له همدې امله که چیرې شرایط سم شي او کورنۍ کولای شي چې له خپلې ځمکې څخه په کم لګښت سره مناسبه ګټه ترلاسه کړي او په څنګ کې یې کومه بله دنده هم ولري، نو ښایي چې بزګر به د کوکنارو له کښت څخه لاس پر سر شي.

له بله پلوه په هغو سیمو کې چې اقتصادي او امنیتي شرایط نه دي ښه شوي، کورنۍ د خپل ژوند د بقا لپاره یا کډه کوي یا خپل څاروي او ځمکه خرڅوي چې په پایله کې د نوموړو کورنیو د خوراکي توکو او روغتیایي خدمتونو اندازه راکمیږي. کورنۍ د نورو زیرمو د نشتوالي په صورت کې ښایي د کوکنارو کښت ته مخه کړي ترڅو ځمکې ته لاسرسی پیدا کړي، په ټولنه کې د اعتبار خاوند شي، هغه پورونه ادا کړي چې په سختو ورځو کې یې ترلاسه کړي (لکه د ۱۳۹۱ کال د بدخشان ژمی)، مالي ګواښونه راکم کړي او د لوړې بیې لرونکی محصول تولید کړي. ځینو کورنیو د کوکنارو له کښت څخه ډیرې پیسې ترلاسه کړي او په نوموړو پیسو یې نقلیه وسایط اخیستي یا یې د خپلو کورنیو د غړو د زده کړې او روزنې په برخه کې پانګونه کړې او د کوکنارو له کښت څخه یې خلاصی موندلی.

کیدای شي چې د یو ولایت، ولسوالۍ یا درې په بیلابیلو برخو کې یا د یوې سیمې په بیلابیلو کورنیو کې د ځینو شرایط سم او د ځینو نورو ناسم وي. د بیلګې په توګه، د هلمند په ولایت کې سیند ته نژدې د بغرا کانال، لښکرګاه او ګرشک د سیمو کورنۍ په ښاري سیمو کې د زیات ارزښت لرونکو څو فصله حاصلاتو د پلورلو له لارې خپل ژوند پر مخ بیایي اما د لرې پرتو سیمو کورنۍ چې د خړوبولو سیستم یې ډیر د ډاډ وړ نه دی او محدود شمیر دندو ته لاسرسی لري، لږ ارزښت لرونکي حاصلات کري. همدارنګه د ننګرهار په ولایت کې د هغو وګړو په معیشت او د کوکنارو د کښت په کچه کې زیات توپیرونه موجود ؤو چې په ټیټو درو کې یې بازارونو ته نژدې ژوند کاوه او هغه وګړي چې په غرنیو سیمو کې اوسیدل. سربیره پردې، په یوې مشخصې سیمه کې د فرصتونو په وړاندې د کورنیو غبرګون، ځمکې او انساني ځواک او همدارنګه بهرنیو فرصتونو ته له لاسرسي پورې تړاو لري.

حکومتولی او سیاسي حالات هم د کوکنارو د کښت په زیاتیدو یا راکمیدو کې ونډه لري. د کوکنارو کښت د ننګرهار په ولایت کې د ۱۳۸۷م کال (۲۰۰۷ – ۲۰۰۸) له تحریم څخه وروسته په نوموړي ولایت کې د سیاسي اړیکو له خرابیدو وروسته یوځل بیا مخ په زیاتیدو شو. د ننګرهار والي او د نوموړي تحریم د اصلي عامل، ګل آغا شیرزي، په وړاندې فعال مقاومتونه تر زیاته حده پوري د نوموړي د سیاسي مخالفینو له خوا یو فرصت طلبه غبرګون ؤ چې د ځمکې په یوه شخړه کې د ګل آغا شیرزي لاس لرلو او د نړیوالو پوځي ځواکونو جدي عکس العملونو لازیات شدت ور وباښه.

د نوموړو سیاسي شخړو له امله ناامني زیاته شوه، د هغو دولتي او قومي مشرانو اعتبار یې کم کړ چې د تحریم په پلي کولو یې موافقه کړې وه او د طالبانو لپاره یې یو ښه فرصت برابر کړ. د ځینو سیمو اوسیدونکو طالبانو ته ښکاره بلنه ورکړه ترڅو له یوې خوا د دولتي چارواکو مخه ونیول شي او له بل پلوه بزګرو ته اجازه ورکړي چې له څو کلن تحریم او اقتصادي ستونزو څخه وروسته د کوکنارو کښت بیا پیل کړي. د هلمند په ولایت کې له (۲۰۰۱) کال څخه راپه دیخوا د کوکنارو ګټه د یو څو ډلو ترمنځ ویشل کیږي چې له امله یې نا امنۍ او دښمنۍ زیاتې شوي او د کوکنارو د کښت او تریاکو د سوداګرۍ لپاره یې د پام وړ چاپیریال برابر کړی دی.

## له مخدره موادو سره مبارزه او اړونده ناخوالې

که چیرې مخدره توکو دولت کمزوری کړی، په ګڼ شمیر حالاتو کې له مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونو هم ورته پایلې لرلې. په داسې حال کې چې د مخدرو توکو د کنټرول په برخه کې د دولت ملي ستراټیژي د ګڼ شمیر معقولو تشویقي او تادیبي اقداماتو یوه ټولګه ده چې د عرضې او تقاضا له ستونزو سره مقابله کوي، اما پلي کول یې آسان نه دي. د مخدرو توکو د کنټرول په برخه کې د دولت ملي ستراټیژي په سمه توګه نه ده پلي شوې ځکه چې د کوکنارو له کښت نه د مخنیوي لپاره تادیبي اقدامات اکثراً په هغو سیمو کې پلي شوي چې بزګرو کوم بل بدیل نه درلود. د عددي موخو (اهدافو) وسواس د دې لامل شوی چې د ناوړه پایلو په پام کې نیولو څخه پرته په ټولو سیمو کې یو ډول کړنلارې پلې شي. د تروریزم ضد جګړې او ټیکاو له موخو سره هم تړاو لري ځکه چې د مخدره توکو په سوداګرۍ کې نغښتو ډلو ته د طالبانو په وړاندې د سخت مقاومت له امله آزادي ورکړل شوې.

د مجموعي تحریم او له منځه وړلو په څیر اجباري طریقې اکثراً سیاسي، حکومتولي او اقتصادي شرایط په پام کې نه نیسي. د ننګرهار او بلخ په څیر سیمو کې چې پیاوړې او هڅول شوې ځواک موجود دی، اجباري تدابیر په لنډ وخت کې د کوکنارو په کښت کې کموالی راولي. اما که چیرې اقتصادي او سیاسي چاپیریال سم نه وي، اجباري طریقې به بالاخره د ننګرهار په څیر له ناکامۍ سره مخامخ شي (شرحه یې په پورتنیو پراګرافونو کې ولولئ). هرځل چې د کوکنارو کښت منع شوی، همدا یې پایله وه. که څه هم په ۱۳۸۰/۱۳۷۹ (۲۰۰۰ – ۲۰۰۱) کال کې د طالبانو د تحریم په هکله چې ګڼ شمیر بزګر یې پوروړي او بې وزله کړل، زیات معلومات نه دي ترلاسه شوي، د وخت په تیریدو سره به دا څرګنده شوې وای چې نوموړی تحریم به هم له ناکامۍ سره مخا شوی وای.

اکثراً د کړنلارو (پالیسیو) په جوړولو کې د کوکنارو د کښت د تحریم اقتصادي پایلې په پام کې نه دي نیول شوي. لکه څرنګه چې د کوکنارو کرل پراخې اقتصادي اغیزې لري، د کاریګرو لپاره تقاضا لوړوي او د اقتصاد په نورو برخو کې د پیسو خوځښت رامنځته کوي، د نورو فرصتونو په نشتوالي کې د کوکنارو د کښت بندول په سیمې باندې ناوړه اقتصادي اغیزې لرلای شي. که څه هم په بلخ او ننګرهار کې د مخ په ودې ښاري اقتصاد له امله نوموړې اغیزې تر ډیره حده احساس نه شوې، او په هلمند او ننګرهار کې د نړیوالو ځواکونو د لګښت له وجې په کمه اندازه محسوس شوې، تحریم د خلکو په رفاه او سوکالۍ باندې ښکاره اغیزې لرلې.

د ننګرهار په ولایت کې د ۱۳۹۰ – ۱۳۹۱ (۲۰۱۱ – ۲۰۱۲) کال څخه راپه دیخوا په لږ پرتو سیمو کې په زیاته پیمانه د کوکنارو د کښت له پیل سره یوځای د وګړو د عوایدو د زیاتیدو، په زیاته پیمانه د خوراکي توکو او روغتیایي خدمتونو د کارونې او زیاتې پانګه اچونې په هکله هم راپورونه خپاره شول. همدارنګه د هلمند ولایت په دښتو کې د کوکنارو د کښت له امله کاري فرصتونه رامنځته شول په خاصه توګه د حاصلاتو د ترلاسه کولو پر مهال چې په لشکرګاه او ګرشک کې د کاریګرو تنخوا هم دوه چنده شوه او د نورو اجناسو او خدماتو لپاره یې هم تقاضا زیاته کړه.

له بل پلوه په ۱۳۹۱ او ۱۳۹۲ (۲۰۱۲ او ۲۰۱۳) کلونو کې د هلمند په ولایت کې د کوکنارو د حاصلاتو ناکامي نه یوازې د هغو کورنیو لپاره روحي فشارونه رامنځته کړل چې په دښتنه کې یې کوکنار کرل، بلکه هغو کورنیو ته یې هم روحي فشارونه رامنځته کړل چې د کانال (زابر) په شاوخوا سیمو کې اوسیدل او د مزدورۍ په عوایدو یې ګوزاره کوله یا د کوکنارو له بزګرو پوروړي وو او خپل پورونه یې نشوای ادا کولای. د تحریم نامطلوبې او ناوړه اغیزې عبارت دي له: د سیمه ایز اقتصاد خرابیدل، د فقر زیاتیدل او د ځمکو له لاسه ورکول، د کوکنارو د کښت بې ځایه کیدل او د دولت پر ځای د طالبانو لازیات ملاتړ.

د بیلګې په توګه، داسې قوي شواهد شته چې په ۱۳۸۷ (۲۰۰۸) کال کې د هلمند په اړوندو سیمو کې د کوکنارو د کښت تحریم د دې لامل شو چې په نورو سیمو کې یې کښت پیل او په شدت سره پرمخ لاړ شي او همدارنګه بې وزله وګړو ته یې زیان ورسید. له تحریم نه وروسته په زیاته پیمانه د غنمو او کیمیاوي سرې د ویشلو له امله ګڼ شمیر زمیندارانو د داسې حاصلاتو کرلو ته مخه کړه چې زیاتو کارګرو ته یې اړتیا نشته او د خپلې کورنۍ غړي یې بسیا وو. په پایله کې د کارګرو لپاره د دندې یوه زیرمه له منځه لاړه او د هغې ځمکې اندازه هم راکمه شوه چې پخوا به په شریکه توګه کرل کیده یا به د کمې ځمکې لرونکو کورنیو په اجاره نیوله. که چیرې د بې وزلو لپاره اجاره یې ځمکه پیدا کیده نو شرایط به یې د پخوا په پرتله سخت وو. ګڼ شمیر کورنیو چې د پخوا په څیر یې د اسانه شرایطو په بدل کې ځمکه نشوای ترلاسه کولای، دښتې ته مخه کړه ترڅو د دولت له کنټرول څخه بهر سیمو کې میشت شي. دا چې په نوموړو سیمو کې د زمینداری لګښت خورا زیات وو، نو بزګرو د کوکنارو بغیر بل کوم بدیل نه درلود.

له ۱۳۸۹ (۲۰۱۰) کال راپه دیخوا د آفینو د لوړې بیې له امله د تولید پیمانه نوره هم زیاته شوه. لکه څرنګه چې په دښته کې بزګر څو ډوله محصولات نه کري، نو که چیرې حاصلات له ناکامۍ سره مخامخ شول، بزګر ترټولو زیات زیانمن کیږي لکه په ۱۳۹۰ – ۱۳۹۱ او ۳۱۹۱ – ۱۳۹۲ (۲۰۱۱-۲۰۱۲) او (۲۰۱۲-۲۰۱۳) کلونو کې. په ۱۳۹۲-۱۳۹۳ (۲۰۱۳-۲۰۱۴) کې سترو زمیندارانو د کوکنارو د کرنیزې ځمکې کچه راکمه کړه اما ګڼ شمیر کوچنیو زمیندارانو د پخوا په پرتله په "دوه چنده" زیاته ځمکه کې په دې هیله کوکنار وکرل چې نقدي عواید به ترلاسه کړي ترڅو خپلې اړتیاوې پوره کړي او په خپله ځمکه باندې یې هم ولګوي. اوس چې د کانال (زابر) د ساحې اوسیدونکي نورو سیمو ته کډه شوي، ځینې ګرځنده بې ځمکې او د کمې ځمکې خاوندانو د کوکنارو په کر کې خاص مهارت ترلاسه کړی.

### چوکاټ: له منځه وړل

د کوکنارو له منځه وړلو د پالیسي په ساحه کې ترټولو زیات بحثونه او مخالفتونه رامنځته کړي دي حتی د نړیوالې ټولنې په هغو هیوادو کې چې له مخدرو موادو سره د مبارزې په برخه کې ترنورو مخکښ دي. د کوکنارو د له منځه وړلو لپاره په انګریزي ژبه کې دوه اصطلاحات کارول کیږي چې اکثراً په مناسب ځای کې نه استعمالیږي. "eradication" د کوکنارو د فصل فزیکي تخریب ته ویل کیږي او "elimination" هغه حالت ته ویل کیږي چې کوکنار له سره و نه کرل شي. دا وروستی حالت د یو شمیر فکتورونو په پایله کې رامنځته کیږي چې یو یې هم د کوکنارو د فصل فزیکي تخریب دی.

د کوکنارو د فصل د فزیکي تخریب لومړنۍ موخه داده چې خلک وویرول شي ترڅو په راتلونکې کې د کوکنارو له کښت څخه لاس په سر شي نه دا چې په یو مشخص کال کې د هغو آفینو اندازه راکمه شي چې مارکیټ ته عرضه کیږي. له دې طریقې څخه باید په هغو سیمو کې کار واخیستل شي چې بزګر د کوکنارو بدیل ولري اما په خواشینۍ سره باید وویل شي چې له دې طریقې څخه په ټولو سیمو کې کار اخیستل شوی ترڅو عددي هدفونه ترلاسه شي یا د کوکنارو له کښت څخه د پاکو ولایتونو شمیر زیات کړل شي.

که چیرې کوکنار د حاصل له ترلاسه کولو څخه لږ څه دمخه چې بزګرو خپل وخت او پیسې په خپل فصل باندې لګولي وي او د بل فصل د کر وخت هم تیر شوی وي، نو د ډیر مخالفت سبب ګرځي. همدارنګه که چیرې د دولتي چارواکو (یا چې خپل ځان د دولت استازي بولي) په هکله داسې نظر موجود وي چې هغوی په اداري فساد کې لاس لري/ یا بهرنیان دي او د واسطې خاوندانو ته څه نه وایي اما بې وزلو ته سزا ورکوي یا د کوکنارو تخریبوونکي (دترکتورونو چلوونکي) له هغو سره دښمني لري، نو په داسې حالت کې له کلک مخالفت سره مخا مخ کیږي. د کوکنارو د فصل د تخریب پر مهال اداري فساد ترسترګو کیږي اما دغه اصطلاح اساساً د پرمختیایي مرستو او دولتي خدماتو په برخه کې کارول کیږي. د کوکنارو د فصل تخریب د عامه کړنلارو (پالیسیو) یوه وسیله ده اما که چیرې په سمه توګه ترې کار وا نه خیستل شي د شخصي دښمنیو په یوه وسیله بدلیدای شي.

د کوکنارو د فصل تخریب یا د فزیکي شخړو له نورو ډولونو څخه کار اخیستل به ښایي په دې معنی وي چې د دولت د کنټرول پیغام خپور شي، اما په ځینو سیمو کې به یې خالصې اغیزې ښایي په بشپړه توګه په بل ډول وي – یعنې د بزګرو د غبرګون له امله به ناآرامي رامنځته شي. د دولت له خوا د کوکنارو د کښت د تخریبولو هلې ځلې، طالبانو او نورو د دولت ضد عناصرو ته د دې فرصت ورکوي ترڅو خپل ځان د دولت په وړاندې د ټولنې مدافع ثابت کړي ځکه تولنه هم دولت ته د عامو وګړو د سوکالۍ د مخالف په سترګه ګوري. داسې بریښي چې طالبان د کوکنارو د فصل د تخریب په وړاندې له مخالفت څخه د کوکنارو د مالي ګټو په پرتله زیاته سیاسي پانګه ترلاسه کوي. دا ډول سیاسي پانګه د هلمند او ننګرهار په څیر سیمو کې په ډیره آسانۍ سره ترلاسه کیدای شي ځکه هلته عام وګړي داسې فکر کوي چې د کوکنارو د فصل تخریبول یا له کښت څخه یې مخنیوی د بهرنیانو د ژمنې بر بنسټ ترسره کیږي. د کوکنارو د کر په ځینو سیمو کې بزګر په ډاګه وایي چې د هغوی اقتصادي حالت د طالبانو د موجودیت له امله ښه شوی دی. د کوکنارو بزګرو په نظر که چیرې د کورنۍ ځینې غړي په دولت کې د ښوونکو یا حتی پولیسو په توګه کار کوي او په عین وخت کې کوکنار کري، کومه بده خبر نه ده.

## پرمختیایي مرستې: د پمپ ډکول یا غلاکول؟

پرمختیایي مرستې (یا د دا ډول مرستو سترې وعدې) چې اکثراً د کوکنارو د کښت له تحریم سره یوځای وي، د دې لپاره کفایت نه کوي چې په زیاته پیمانه بزګر د کوکنارو له کښت څخه د قانوني معیشت لور ته ور واړوي. ګڼ شمیر بزګرو چې د غنمو تخم او کیمیاوي سره د سبسایډي په توګه ترلاسه کړه او د کوکنارو له کر څخه لاس په سر شول، د خپل ژوند لومړنۍ اړتیاوې نشي پوره کولای. سربیره پر دې، د بدیل معیشت ګڼ شمیره پروګرامونه چې د مالي مرستو او پلان جوړونې په برخو کې له محدودیت سره مخامخ دي، اکثراً د ډیر لنډ وخت لپاره پلي شوي چې نوموړې موده کې یې اغیز ندی څرګند شوی. ځینو نورو پروګرامونو بیا خپلې مرستې هر کال له یوې ولسوالۍ څخه بلې ولسوالۍ ته انتقال کړي یایې په داسې موضوعاتو باندې تمرکز کړی چې د شمیرلو وړ وي او مرستندویانو ته یې د راپور په توګه وړاندې کړای شي (لکه د روزل شویو بزګرو شمیر یا هغه توکي چې پر بزګرو ویشل شوي). له دې نه هم مهمه موضوع دا ده چې پرمختیایي مرستو د بزګرو د معیشت یوې کوچنې برخې ته پاملرنه کړې، نه دا چې په ټولیزه توګه یې په پام کې نیولي وي. په غیر عادلانه توګه د مرستو ویشل – یا د هیواد د نورو سیمو په پرتله یا د سیمه ایزو مشرانو د درغلو له امله چې ګټې یې خپل ځان ته ګوښې کړي وي - د افغان دولت په هکله یوه بله مهمه موضوع ده.

## د کړنلارې (پالیسي) اغیزې: امیدواري یا ناهیلیتوب ؟

په راتلونکو کلونو کې به ښایي یو شمیر فکتورونه د دې لامل شي چې د کوکنارو د کښت په برخه کې تشویقي رول ولوبوي: د مخدرو موادو پر ضد مبارزې او پرمختیایي پروګرامونو لپاره د مالي مرستو راکمیدل، د ملي اقتصاد کمزوري کیدل، د سیاسي، مالي او پوځي شتمنیو وتل، او همدارنګه د نوي دولت او نړیوالې ټولنې د پام اووښتل نورو مسایلو ته. له بلې خوا له سترو پرمختیایي مقاصدو څخه د نړیوالې ټولنې لاس په سر کیدل د دې احتمال زیاتوي چې له تشویقیه مسایلو پرته شدید تدبیرونه دې ونیول شي (زیات او سخت "تحریمونه" او لږ "مرستې"). په داسې حال کې د مخدرو توکو په وړاندې مبارزه تر زیاته حده پورې د عامه کړنلارو له آجنډا څخه ایستل شوې موضوع ده، د کلیوالو سیمو په اقتصاد کې د آفینو د ونډې او په دولت دارۍ کې یې د اهمیت په پام کې نیولو سره ویلای شو چې که داسې نه وای شوي، نو ښایي اوږد مهاله ودانیزې پایلې به یې لرلې.

## د کړنلارې اغیزې څرګندې دي:

- **د ستونزې اوږد مهاله طبیعت منل.** په کړنلارو کې باید د دې ستونزې اوږدمهاله طبیعت په پام کې ونیول شي او د عمل جامه وراغوستل شي نه دا چې یوازې په خبرو کې ترې یادونه وشي اما په عمل کې ترې ملاتړ نه کیږي. په دوامداره توګه د کوکنارو د کښت او د آفینو د تولیداتو راکمول یوه جاري لړۍ ده چې له یو کال نه تر بل کال پورې د عددونو په کم او زیات کیدلو یا د کوکنارو له کښت څخه پاکو ولایتونو د شمیر پر بنسټ نشي پیمانه کیدای. د بیلابیلو کلونو مبالغوي تصاویر هم بریاوې ښیي او هم ناکامۍ. یوه مهمه بیلګه یې په ۱۳۸۲ – ۱۳۸۷ (۲۰۰۷ – ۲۰۰۸) کال کې د کوکنارو د کښت او د آفینو د تولیداتو د کموالي تړاو له پرمختیایي مرستو سره ښودل شوی په داسې حال کې چې په نوموړې موده کې د آفینو بیه په نسبي توګه ټیټه وه او د کاریګرو تقاضا لوړه وه.

د شته والي په صورت کې باید له فرصتونو څخه ګټه واخیستل شي او له داسې مداخلاتو څخه ډډه وشي چې په ښکاره ډېر ساده او آسان برېښي اما د وخت په تیرېدو سره، حالات نور هم خرابوي. د داسې مداخلاتو دوه بیلګې د کیمیاوي موادو شیندل (چې په زیاته پیمانه ممکن نه دي اوحتماً د سیاسي شخړو د رامنځته کیدو لامل ګرځي) او د درملو جوړولو نړیوالو کمپنیو ته د کار اجازه ورکول (د افغانستان د غیر موثر تولید او د دې خبرې زیات احتمال چې عام وګړي به یې د حقوقي اړخ په هکله مغشوش کیږي او د اغیزمن څارنیز ظرفیت نشتوالی به د آفینو عرضه هرو مرو زیاته کړي).

- **د سیمه ایزو شرایطو په پام کې نیول.** د کوکنارو په کښت کې تغییرات د بیې، نا امنۍ یا د یو والي د رهبرۍ په څیر واحد متحول سره نشي تړل کیدای. اما په خواشینۍ سره باید وویل شي چې له مخدرو توکو سره د مبارزې ادارو اکثراً سیمه ایز شرایط په بشپړه توګه له پامه غورځولي یا یې په ډېره کمه اندازه په پام کې نیولي دي. د هرې سیمې لپاره باید داسې ځانګړې کړنلارې او پروګرامونه جوړ شي چې د نوموړې سیمې جغرافیاوي موقعیت او د کورنیو ځانګړتیاوو ته د طبیعي زیرمو، سوداګریزو لارو، مارکیټونو او ښاري سیمو په څیر بیلابیلو فرصتونو پر بنسټ ځواب ویونکی وي.

  په هغو سیمو کې چې د ښې حکومتولۍ، امنیت، زراعتی – اقتصادی اسانتیاوو، زیربنا او فعال مارکیټونو په څیر څو ډوله اقتصادي او سیاسي فکټورونه شته والی لري، د چارواکو له خوا د کوکنارو د کښت د تحریم په برخه کې فشارونه به ښایي کورنۍ دې ته وهڅوي ترڅو دا معیشت غوره کړي چې څو ډوله قانوني حاصلات وکري او / یا له فارم څخه بهر دندو باندې بوخت شي. بل خوا په هغو سیمو کې چې زیرمې یې کمې دي، د نقدو پیسو په بدل کې د حاصلاتو لپاره تقاضا کمه ده، او په ښاري سیمو کې د دندو د ترسره کولو لپاره محدوده لاسرسي لري، پورته ذکر شوي فشارونه به یوازې مخالفتونه زیات کړي او د خلکو سوکالي به راکمه کړي. د عوایدو د ترلاسه کولو او ټولنیز خوندیتوب له ملاتړ څخه پرته یوازې د فزیکي زیربناوو په ځانګړې توګه د خړوبولو د سیستم جوړول به ښایي چې په راتلونکې کې د کوکنارو کښت زیات کړي. شواهد ښیي چې که چیرې پرمختیایي مرستې د کوکنارو د کرلو د کمیدو پر بنسټ وي، نو ښایي چې په یو یا دوه فصلونو کې به کوکنار کم وکرل شي اما په نهایت کې به ګټور ثابت نشي. په جدي توګه د اوږدمهاله اغیزو څارنه د سیمه ایزو شرایطو تحلیل او همدارنګه د پرمختیایي فعالیتونو او د هغوی د پایلو ترمنځ د اړیکو په برخه کې له مونږ سره مرسته کولای شي.

- **د مارکیټ او اقتصادی – زراعتی ګواښونو راکمول.** په ځینو ساحو کې له پرمختګ سره سره، بزګر اوس هم له سترو خنډونو او د مارکیټ له ګواښونو سره مخامخ دي. د بیلګې په توګه د حاصلاتو د راغونډولو پر مهال ټیټې بیې او د ټرانسپورټ محدودیت یا د کرایې لوړوالی، او د حشراتو او ناروغیو په څیر زراعتی – اقتصادي ګواښونه. په ځینو ساحو کې چې له مارکیټونو څخه ډېر واټن لري، د زراعتي محصولاتو لپاره کمه تقاضا له زیات ارزښت لرونکو محصولاتو څخه د ګټې ترلاسه کولو په وړاندې یو خنډ دی. په دا ډول سیمو کې باید بزګر وهڅول شي ترڅو خپل محصولات پروسس کړي او بیا یې لرې پرتو مارکیټونو ته واستوي.

- **د بې وزلو په ګټه مداخلې.** ستر زمینداران د کوکنارو یوازیني یا حتی عمده کښت کوونکي نه دي. له اړونده بدیلونو څخه پرته د کوکنارو پر کښت باندې تحریم به ترټولو زیاتې ناوړې اغیزې به یې وزلو وګړو وکړي په ځانګړې توګه بې ځمکې یا د کمې ځمکې خاوندان. ترټولو غوره مداخلې هغه دي چې زیات کاریګر په کار ګوماري لکه د مالدارۍ او زیات ارزښت لرونکې باغدارۍ په څیر پروژې.

- **له مخدرو موادو سره د مبارزې فعالیتونه او پرمختیا.** له مخدرو موادو سره د مبارزې فعالیتونه له نورو مرستندویه پروګرامونو څخه پرته په یوازې ځان نشي پلي کیدای. دا ډول پروګرامونه باید مدغم شي: یعنې په ټولو پرمختیایي کړنلارو او پروګرامونو کې ورته ځای ورکړل شي ترڅو په ګډه سره کار وکړي. له مخدرو موادو سره د مبارزې نظریه د ۱۳۸۵ (۲۰۰۶) او ۱۳۸۸ (۲۰۰۹) کلونو ترمنځ د نړیوال بانک، DFID، او اروپایي اتحادیې په ګډون د نړیوالې پرمختیایي ټولنې د ځینو سترو مرستندویانو په آجنډا کې شامله شوه. اما څو فکټورونه د دې لامل شول چې نوموړې نظریه و نه منل شي: په هغه وخت کې د مخدرو توکو د کنټرول په بنسټونو کې د سیاسي ملاتړ نشتوالی، د کوکنارو د کر د سیمو لپاره د افغان دولت او نړیوالې ټولنې ځانګړې مرستې (د بدیل معیشت پروګرامونه)، او بالاخره په کرل شویو سیمو کې د ملي کچې راکمیدل. د پرمختیایي کړنلارو او پروګرامونو جوړوونکي باید په دې وپوهیږي چې د هغوی اقدامات د مخدرو موادو په اقتصاد څه ډول اوږد مهاله اغیز لري، د نامطلوبه ناوړه پایلو د راکمولو او د پام وړ پایلو د زیاتولو لپاره کار وکړي. که نه نو، کرنیز ظرفیت به پراخ شي یا به د کر ساحه زیاته شي او حتی نوې دښتې به هم وکرل شي چې په پایله کې به د آفینو محصولات تر پخوا هم زیات شي او له مخدرو موادو سره د مبارزې هلې ځلې به له ناکامۍ سره مخا مخ کړي.

## د دې څېړنې په هکله

دغه پالیسي پانه د هغې څېړنې د موندنو پر بنسټ ترسره شوې چې د اروپایي ټولنې له خوا یې مالي مرسته کیده او د بدخشان، بلخ، هلمند او ننګرهار په ولایتونو کې د ۱۳۹۰ (۲۰۱۱) او ۱۳۹۲ (۲۰۱۲) کلونو په لړ کې د آفینو د اقتصاد او کلیوالو سیمو د معیشت په هکله ترسره شوې ده. په کلیوالو سیمو کې تر سیاسي – اقتصادي شرایطو لاندې د کورنیو د تصمیم نیولو د څېړنې لپاره له کیفي او کمي میتودونو څخه کار واخیستل شو. له دوکاندارانو، کاریګرو، دولتی ادارو او مرستندویانو او غیردولتی موسسو چارواکو سره د مرکو سربیره له کابو ۲۰۰۰ کورنیو، کاریګرو، او دوکاندارنو سره د کوکنارو د کر په سیمو کې ژورې مرکې وشوې. له نورو اړونده څېړنو څخه چې له ۱۳۸۱ (۲۰۰۲) کال راپه دیخوا ترسره شوي، د تحلیل په برخه کې ترې کار اخیستل شوی دی.